**تقوا شکوري** (د ۲۰۲۴ کال دوهمې جایزې ګټونکې)

۱

درست جلال په یو جمال سره ختمېږي

عشق کامل دی، په کمال سره ختمېږي

زما ټول شکایت، ستا ټول حسابونه

باور وکړه، په وصال سره ختمېږي

حسن دومره قدر نه لري په اصل

لمر ته ګوره، په زوال سره ختمېږي

د اوچت قدم غبار په بل قدم ځي

نازکطبع، په شمال سره ختمېږي

نور څه نه شته، خو یو ته یې چې زه پایم

ژوند مې هم، یاره په خال سره ختمېږي

په کوهي کې وي یوسف، په دار منصور وي

یا کوڅو کې، په بلال سره ختمېږي

پشم پشم رڼا څوکو کې د هر تار

تورې زلفې، په مشال سره ختمېږي

څښل نه شته، د دیدن په میکده کې

جام د سرو سترګو په ټال سره ختمېږي

لنډ سوال دی، وې کړم خندکه له ادبه؟

یو سوال خندکه په سوال سره ختمېږي

دومره طمعه له ادمه! ښه خبر یې

ثانیه بېلتون په کال سره ختمېږي

تقوا زموږ په حال و قال کې هنر پروت دی

غزل نه دی چې په خیال سره ختمېږي

۲

د سترګو بزمه، رند نظره ، زر سلامه سلام

له مقدس اغاز له سره، تر انجامه سلام

هر زور و زیر، تنوین و شد، مد و ساکن لکه ته

زه درته مات، په هر ایات ، کامل کلامه سلام

مېلمه جانان، خندان جهان، مجلس د عرش او خوبان

خوشبو محل، حال د کوثر، د لقا جامه سلام

عشق امانت، معشوق حاضر، د عاشقانو حضور

لوړ حقیقت، انسانیت، عظیم مقامه سلام

رخ دې قبله، لمن کعبه، مخ کې محراب لرې ته

یم په سجده، پروت پر سینه، د زړه امامه سلام

پنهان عیان، تر دې میان، بالا تر کون و مکان

راوړي ربیار، وایي بادار، درته غلامه سلام

مړ بې اجل، رسوا بلبل، صنم په رنګ د هر ګل

شوندې ګلاب، پیچک کاکل، نازک ګلفامه سلام

هغه برباد، به کړي اباد، خدای له هر غمه ازاد

وصال، ببلتون، په وخت معلوم، تا ته ایامه سلام

ته یې منې، دا دلبري، تقوا د سر په بازي؟

پرې کړي سر، درته راوړم، تمام تمامه سلام

نظم

چې له خدایه سره نه شته هغه زره یې

په کمیس کې د یوسف بن یعقوب یې

خپله ته یې، یاد په صبر د ایوب یې

د داوود د حنجرې اصلي مطلوب یې

هم اشوب یې، هم محجوب یې، هم محبوب یې

د دې ټوله کائنات په تن کې ته یې

چې له خدایه سره نه شته هغه زره یې

لږ نظر، پر معشوقو د خپل درگاه کړه

د وصال خوشبو دې گډه، په هوا کړه

چې وه پاته له موسی، هغه رڼا کړه

بیا راځه، هغسې زیرې د لقا کړه

کلک مې ونیسه سینه پورې هر څه یې

چې له خدایه سره نه شته هغه زره یې

پیداوار د فرشتو او پیغمبره

د اسمان، ځمکې، سپوږمۍ او بیا تر لمره

د ادم و د هوا په راز خبره

زه دې ځان یم، ځان د خپل ځان کړه دلبره

عبادت نه یې، نه لمونځ یې، نه روژه یې

چې له خدایه سره نه شته هغه زره یې

اهتزاز د هرې پاڼې، هر چنار ته

لیونۍ ټولې څپې، د اوبو لار ته

جنتي جنتي وږم ته، ګلزار ته

لکه ناوې شرمناکه کوهسار ته

انعکاس د هر پیدا لکه اینه یې

چې له خدایه سره نه شته هغه زره یې

وخت مجنون دی بې خبر له میاشت و کال دی

له تندې یې ستا په غلا راوړی خال دی

په یوه خال کې چې پروت دومره کمال دی

سم غضب یې تر پلو لاندې جمال دی

دومره پاش پاش یې په هر څه کې هر څه یې

چې له خدایه سره نه شته هغه زره یې